# نبوي سیرت

Ketabton.com

راټولونه او اوډنه: ضیاءالرحمن ذهین

ketabton.com - The Digital Library

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ

دغه لنډه مجموعه زه خپل پلار جان ته ډالۍ کوم چا چې په ډېره مینه او شفقت سره زه تل د زده کړو لور ته هڅولي یم. زما د پرمختګ او هوسایني لپاره یې ډېر زحمتونه ګاللي دي. رب تعالی دې ښاد، آباد او سرلوړي لري.

ketabton.com - The Digital Library

## دسریزي په پلمه

**الحمدالله رب العالمین والعاقبه للمتقین والصلاه والسلام علی رسوله الامین وعلی آله واصحابه اجمعین.**

**اما بعد** دا کتاب (نبوي سیرت) د هغو سوالونو او جوابونو مجموعه ده چې د بشریت د ستر لارښود حضرت محمدﷺ په ژوند او نبوت پوري تړاو لري. په دې کتاب کې چې کوم سوالونه او جوابونه راغلي دي دا مونږ د سیرت د کتابونو له جملې څخه له یو ډیر مشهور کتاب څخه چې د الرحیق المختوم په نامه ده، دمحترم صفي الرحمن مبارکفوری لیکنه ده چې دمحترم سلطان محمود صلاح په وسیله خوږې پښتو ژبې ته ژباړل شوي ده راټول او ترتیب کړي دي. په دې مجموعه کې له ټول کتاب څخه څه باندې ۱۳۰ سوالونه او جوابونه ځای پرځای شوي دي چې تر ډیره یې سوالونه عمومي شکل لري.

د سوالونو او جوابونو په دغه مجموعه کې چې په کومو ځایونو کې چې اختلاف د اقوالو شتون درلوده نو په هغه ځایونو کې مونږ هڅه کړي چې هغه قولونه راواخلو کوم چې د کتاب د لیکوال په اند صحح او راجیح قولونه وه. د بحث د اوږدیدلو له امله مو د اختلافي قولونو له راخیستلو څخه ډډه کړي.

تاسو ته بهتره معلومه ده چې په اوسني دور کې له مطالعي سره لیوالتیا کمه شوي ده. خاصة په هغو اسلامي هیوادونو کې چې غربیان د هغو له خپلواکۍ او استقلال څخه په راتلونکي کې ویره لري، نو ددغو هیوادونو لپاره یې ځانګړي پلانونه نیولي دي ترڅو د دغو هیوادونو وګړي له خپلو دیني او ملي ارزښتونو څخه لري وساتي. د دغو پلانونو پایله داده چې دیادو هیوادونو وګړي اوس داسي ذهنیت لري چې د کتاب محتوا ته نه بلکی دکتاب حجم ته ګوري د کوم کتاب حجم چې زیات وي هغه نه مطالعه کوي زړه یې ورته تنګیږي. نو مونږ وغوښتل چې دسیرت له مشهوره کتاب الرحیق المختوم څخه چې په ۷۲۷ صفحو کې راغونډ شوي ده، داد سوالونو او ځوابونو مجموعه ترتیب کړو.

زه په دې متیقین یم چې هر مؤمن مسلمان د دې لنډی مجموعي له مطالعي وروسته به د الرحیق المختوم کتاب لوستنې ته ملا تړي چې په پایله کې به په ډیر ښه ډول د خپل نبي کریمﷺ له صورت او سیرت څخه خبر شي خپل ځان او کورني به د هغه مبارک په افعالو او اقوالو باندې جوړه او مستقیمي لاري ته برابره کړي.

په پای کې د اللهﷻ شکر آدا کوم چې ماته یې د دې مجموعي د ترتیبولو توفیق راکړ که له ما څخه کومه تیروتنه شوي وي لومړي له اللهﷻ او بیا ستاسو څخه بښنه غواړم.

**په ډیره مینه او درنښت**

**ضیاءالرحمن ذهین**

ketabton.com - The Digital Library

**۱) د العرب لفظ لغوي معنا څه ده ؟**

**جواب:** العرب په لغات کې هغو وچو ځمکو، دښتو او ډاګونو ته وویل کیږي، چې هلته هیڅ اوبه یا بوټي شتون ونه لري.

**۲) د عربو جزیره له کومو هیوادنو او جزیرو سره ګډه پوله لري.؟**

**جواب:** لویدیځ ته له سري بحیرې او سینا ټاپو سره، ختیځ ته له خلیج او عراق له جنوبي زیاتره برخو سره او جنوب ته د عربو له بحیرې سره چې له بحرالهند څخه سرچینه اخلي بیا تر عراق او شام پورې رسیږي.

**۳) د عربو د جزیري مساحت څومره دي؟**

**جواب:** یو میلیون میتره مربع او یا هم یو میلیون او درې سوه زره میله اټکل شوي ده.

**۴) د عربو جزیره د نړۍ د کومو لویو وچو ترمنځ موقعت لري؟**

**جواب:** د عربو جزیره په شمال کې له افریقا، په شمال ختځ کې له اروپا او په لویدیځ له عجمو او منځني نژدي ختځ همداسي له هند او چین سره لاري لري.

**۵) د نسل او اصل په اساس عربي قومونه په څوډوله دي؟**

**جواب:** عربي قومونه د نسل او اصل په اساس په دریو ډولونو تقسمیږي.

**اول: البائدة** هغه عرب قومونه دي چې له منځه تللي دي اوپه اړه یې ډیر معلومات شتون نه لري. لکه عاد ثمود او نور

**دوهم: عاربة** هغه عرب قومونه دي چې دوي ته قحطاني عربان هم واي.

**دریم: مستعرب** دا عرب د اسماعیل(ع) اولاده ده چې ورته عدناني عربان هم واي.

**۶) د مستعرب عربانو نیکه څوک او د کوم ځای و، او څو میرمني یې درلودي؟**

**جواب:** د مستعرب عربانو نیکه ابراهیم(ع) و، په اصل کې د عراق د آر نومي سیمي و، او دوه میرمني یې درلوي چې د یو نوم سارا بي بي او د دوهمي نوم هاجره بي بي و.

**۷) په تاریخي مصادرو کې مکي شریفي ته د ابراهیم(ع) څو سفرونه ذکر شوي دي؟**

**جواب:** څلور سفرونه

**۸) د محمدﷺ د یویشتم نیکه نوم څه وه؟**

ketabton.com - The Digital Library

**جواب:** عدنان

**۹) اسماعیل ؑ د څوکلونو په عمر له دې نړۍ څخه رحلت وکړ، او له د وروسته دمکي او کعبي شريفي مسوليت د چاپه غاړه وه؟**

**جواب:** اسماعیل ؑ د۱۳۷ کلونو په عمر رحلت کړي ده. له د وروسته يې زوي نابت ورپسی قیدار بل روایت کې بیا راځي چې قیدار ورپسي نابت د مکي مسولیت په غاړه درلوده.

**۱۰) د مکي مکرمي اصلي اوسيدونکي څوک دي، او له دوي وروسته واک له کومي کورني سره وه؟**

**جواب:** د مکي اصلي اوسیدونکي جرهمیان و، چي له دوي وروسته واک خزاعي کورني ترلاسه کړ، چې د دغي کورني واک تر ۳۰۰ کلونو پوري دوام وکړ.

**۱۱) د قريشو واکمني په کومه ميلادي پيړۍ کې په مکه باندي شروع شوه؟**

**جواب:** د پنځمې میلادي پیړۍ په نمایې کې یعني په ۴۴۰م کال کې، او لومړي واکدار قصي نومیده.

**۱۲) د کعبي شريفي شمال طرف ته د دارالندوه په نامه مشهوره کوټه چا جوړه کړه؟**

**جواب:** قصي بن کلاب

**۱۳) د عربو تر ټولو د پخواني بت نوم څه و، او چیرته يې موقعت درلوده؟**

**جواب:** د عربو تر ټولو د پخواني بت نوم منات و، چې د سري بحيري په څنډه کې د المشلل په سيمه کې يې موقعت درلوده.

**۱۴) د عربو د لويو بوتانو نومونه څه دي؟**

**جواب:** دري داني دي.

**اول:** منات د سري بحيري په څنډه کې د المشلل په سيمه کې

**دوهم:** لات په طايف کې

**دريم:** العزي په وادي النحله کې

**۱۵) کله چې د اسلام مبارک دين راغي هغه وخت د عربو مشهوري قبلې کومې وي؟**

**جواب:** خيبر، نضير، مصطلق، قريظه او قنقاع

**۱۶) يمن ته يهوديت د چا په لاس داخل شو؟**

ketabton.com - The Digital Library

**جواب:** تبان اسعد ابوکرب په لاس هغه یثرب ته د جګړې لپاره تللی و، هلته یهودي شو، او بیرت یې یمن ته یهودیت راوړ.

**۱۷) نصراني دین عربو جزیرې ته څنګه داخل شو؟**

**جواب:** نصراني دین د عربو جزیرې ته د رومیانو او حبشي تسلط له لارې داخل شو.

**۱۸) محمدﷺ د نسب سلسله په څو برخو ویشل شوې ده؟**

**جواب:** په درېیو برخو ویشل شوې ده.

**اول:** نسب پوهان یې په صحت اتفاق لري. دا سلسله له محمدﷺ نه تر عدنان پورې رسیږي.

**دوهم:** د نسب پوهان یې صحح بولي، خو ولې ځینې نورو پکې توقف کړې داسلسله له عدنان نه تر ابراهیمؑ پورې رسیږي.

**دریم:** یې له شکه دروغ او غیرې صحح امور پکې موجود دي. دا سلسله له ابراهیمؑ نه تر ادمؑ پورې رسیږي.

**۱۹) د محمد ﷺ د نسب شجره تر عدنان پورې ولیکې؟**

**جواب:** محمدﷺ بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عمرو بن عبد مناف بن قصي بن کلاب بن مره بن کعب بن غالب بن لوي بن فهر بن مالک بن نضر بن کنانه بن خزیمه بن مدرکه بن عامر بن الیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

**۲۰) د قریشو قبله چاته منسوب ده؟**

**جواب:** د قریشو قبله فهر بن مالک ته منسوب ده ځکه چې دده لقب قریش وو.

**۲۱) د بیت الله شریفې په امورو کې عبدالمطلب له کومو مهمو پېښو سره مخ شو؟**

**جواب:** لومړې پیښه د زم زم کوهي کیندل. دوهمه پیښه د فیل واقعه ده.

**۲۲) د فیل واقعه په کوم میلادي کال کې، او محمدﷺ له پیدایښت نه څو ورځې مخکې شوې ده؟**

**جواب:** د فیل واقعه په ۵۷۱م کال کې د فیبروری په وروستیو او د مارچ په لومړیو کې او د زیاترو تاریخ پوهانو له نظره د محمدﷺ له پیدایښت څخه ۵۵ ورځې مخکې رامنځته شوې ده.

**۲۳) د عبدالمطلب څو زامن وو نومونه یې ولیکې؟**

**جواب:** د عبدالمطلب لس زامن وو خو په اکثره روایاتو کې دریالس هم راغلي دي چې نومونه یې په لاندې ډول ذکر کوو. خو دلته یې د لس نومونه ذکر کوو.

ketabton.com - The Digital Library

**زامن:** عبدالله، عباس، حمزه، ابوطالب، ابو لهب، صفار، غیداق، مقوم، حارث او زبیر

**لوڼي:** بیضاء، بره، عاتکه، صفیه، اروي او امیمه

**۲۴) محمدﷺ محترم پلار چیرته اوپه څو کلنی کې وفات شو؟**

**جواب:** د محمدﷺ پلار په مدینه منوره کې د ۲۵ کلنو په عمر وفات شو، او هغلته النابغه الجعدي کې خاورو ته وسپارل شو.

**۲۵) محمدﷺ په کومه ورځ پیدا شوي دي؟**

**جواب:** د فیل د پیښي لومړي کال و، د دوشنبي سهار د ربیع الاول په ۹نېټه دې نړۍ خپلي مبارکي سترګي وغړولي، چې د ۵۷۱ م کال د اپریل له ۲۰ یا ۲۲ سره سمون خوري.

**۲۶) محمدﷺ دمبارک میلاد په وخت کې کومي مهمي پیښي رامنځته شوي؟**

**جواب:**

د کسري د قصر څوارلس کنګری ولویدي.

د مجوس اتش کده مړه او سړه شوه.

دساوه بحیره وچه شوه.

د شاو خوا کلیساوي راپرېوتي.

**یادونه:** پورتنی ریوایتونه بیهقي رانقل کړي دي خو محمد الغزالي یې نه مني.

**۲۷) هغه ښځه چې محمدﷺ ته یې له مور یې یې څخه وروسته د لومړي ځل لپاره شیدې ورکړي دي څه نومیده؟**

**جواب:** هغه د ابولهب وینځه ثوبیه وه.

**۲۸) د محمدﷺ لومړني داېې څه نومیده، او له کومي قبلي سره تړاو درلوده؟**

**جواب:** حلیمه بنت ابي ذویب، او له بني سعد بني بکر له قبلي سره تړاو درلوده.

**۲۹) د محمدﷺ د رضاعي ورونو او خویندو نومونه څه دي؟**

**جواب:** عبدالله بن حارث، اسیه بنت حارث، جذامه بنت حارث

**۳۰) محمدﷺ تر څو کلني پوري بنی سعد کې پاتي شو؟**

**جواب:** ۴څلور یا پنځه کلونو پوري

ketabton.com - The Digital Library

**۳۱) د محمدﷺ مور بي بي په کومه سیمه کې وفات شوه؟**

جواب: د مکي او مدیني منوري ترمنځ د آبواء نومي سیمه کې وفات شوه او یثرب ته یې د خاوند د قبر د زیارت کولو لپاره سفر کړي وو.

**۳۲) محمدﷺ د څو کلونو په عمر وو، چې نیکه یې وفات شو؟**

جواب: د اته کالو دوه میاشتو او لسو ورځو وو.

**۳۳) محمدﷺ په څوکلني کې له خپل کاکا سره شام ته سفر وکړ، او هلته یې د استقبال لپاره څوک مخي ته راووت؟**

**جواب:** حضور مبارک چې کله د دولسو کالو او یاهم په بل روایت کې راځي چې د دولسو کالو دوه میاشتو او لسو ورځو شو نو له خپل کاکا ابو طالیب سره یې شام ته سفر وکړ. د شام په بصري ښارکې د بحیرا په نوم یو راهب چې اصلي نوم یې جرجیس و، مخي ته ورته راوتلي وو.

**۳۴) محمدﷺ د څو کلو په عمر و، چې د فجار جګړه رامنځته شوه، او د کومو قبلو ترمنځ وه؟**

**جواب:** محمدﷺ د ۱۵ کالو په عمر و، په دغه جګړي کې  قریش او کنانه یو خوا ته  او قیس عیلان قبله بلي خواته و، چې په پای کې قریش او کنانه وګټله.

**۳۵) د فجار جګړه ولي په دې نامه ونومول شوه؟**

**جواب:** ځکه چې په دغه جګړه کې د حرم شریف او د حرام د میاشتو حرمت تر پښولاندې شو.

**۳۶)  دحلف الفضول (فضول تړون) له کومي جګړي وروسته  ترسره شو، او ددي کار اهتمام د قریشو د کومو کورنیو لخوا شوي وو؟**

**جواب:** د فجار له جګړي وروسته د فضول تړون رامنځته شو، چې ددې کار اهتمام د قریشو لاندنیو کورنیو کړي وو.

(بني هاشم، بنوالمطلب، اسد بن عبدالعزي، زهر بن کلاب، تیم بن مره)

**۳۷) کله چې خدیجيرض د واده اراده وکړه، نو لومړي دا خبر له چا سره شریکه کړه؟**

**جواب:** خپلي ملګري نفسه بنت منیه ته وکړه، هغې له نبي کریم ﷺ سره شریکه کړه.

**۳۸) نبی کریمﷺ واده د شام له راتګ څخه څومره وروسته ترسره شو؟**

**جواب:** دوه میاشتې

**۳۹) د خدیجيرض او رسول پاکﷺ د اولادونو نومونه کوم دي؟**

ketabton.com - The Digital Library

**جواب:** قاسم بیا زینب بیا رقیه بیا ام کلثوم بیا فاطمه وروستي او کشر زوي عبدالله چې طیب او طاهر یې لقب وو.

**۴۰ ) د اسماعیلؑ په زمانه کې د کعبې شریفې لوړوالي څومره وو؟**

**جواب:** ۹ ګزه

**۴۱) د کعبې شریفې د بیا ودانولو لپاره د هغه د لومړي تعمیر په ړونګولو لومړي چا پیل وکړ؟**

**جواب:** ولید بن مغیره المخزومي

**۴۲ ) کله چې کعبه د دوهم ځل لپاره ودانه شو، څومره لوړوالي یې درلوده، او چت په څو ستنو سره ولاړ وو؟**

**جواب:** ۱۵ متره لوړوالي لري، چت یې په شپږو ستنو سره دریدلی ده.

**۴۳) د حرا غار په کوم غره کې شتون لري، او نبي کریمﷺ به چې کله دې غار ته ته، کوم ډول خواړه به یې له ځان سره وړل؟**

**جواب:** د حرا غار په جبل نور کې شتون لري. کله به چې نبی کریمﷺ نوموړي غار ته ته، د سویق په نامه به یې یو ډول خواړه له ځانه سره وړل.

**۴۴) حرا غار په اړه څه معلومات لري؟**

**جواب:** د حرا غار دجبل نور په غره کې شتون لري. ۴ ګزه اوږدوالي او څه کم دوه ګزه سور لری. دا غار په ځمکه کې نه ده بلکی د دوه تیږو له یوځایوالي څخه رامنځته شوي ده.

**۴۵) کله چې جبریلؑ لومړنۍ وحي راوړه، ددغې وحي د وخت او کال په اړه څه معلومات لري؟**

**جواب:** د رمضان المبارک دمیاشتی ۲۱ د دوشنبي ورځ وه. چې ۶۱۰ میلادي کال د اکیسټ له لسمي سره سمون خوري، په دې وخت کې نبی کریمﷺ عمر په قمري حساب ۴۰ کاله ۶میاشتي او ۱۲ ورځي و، او په شمسي حساب۳۹ کاله ۳ میاشتي او ۱۲ ورځي و، چې لومړي وحي د جبریلؑ لخوا ورته راوړل شوه.

**۴۶) کله چې نبی کریمﷺ د لومړي وحي له نزول څخه وروسته کورته راغي، نو خدیجي یې یې چاته بوته؟**

**جواب:** خپل د کاکا زوي ورقه بن نوفل ته

**۴۷) ابن حجر رحمة الله د وحي د بندیدلو د علت په اړه څه ویلي دي؟**

ketabton.com - The Digital Library

**جواب:** د وحي څو ورځې بندیدل ددي لپاره وه چې هغه ویره چې د لومړي وحي د نزول په وخت کې په نبی کریمﷺ باندي راغلي وه، هغه لري شي او د بیا وحي د نزول لپاره اماده شي.

**۴۸) په نبي کریمﷺ باندي دوهم کوم صورت نازل شوي دي.**

**جواب: یاایها المدثر** تر **والرجزفاهجر** پوري نازل شوي دي.

**۴۹) ابن قیم رحمةالله د وحي ډولونه څنګه بیان کړي دي؟**

**جواب:** ابن قیم رحمةالله وحي په اوو قسمه بیان کړي دي.

1. ریښتني خوبونه: چې له همدي څخه د نبي کریمﷺ وحي شروع شوي ده.
2. فریښتو به په داسي حال کې د نبي کریمﷺ په زړه کې وحي اچوله، چې هغه به فریښتي نه لیدلې.
3. فریښته به د سړي په شکل کې راتله او نبي کریمﷺ ته به یې وحي کوله.
4. نبي کریمﷺ ته به وحي د ګړونګي د آواز په شان راتله، او فریښته به د نبي کریمﷺ له مبارک جسد سره یو ځای کیده.
5. فریښته به نبي کریمﷺ په اصلي شکل کې لیدله، په دې شکل کې دواري وحي راغلي ده.
6. هغه ډول وحي چې پاس په اسمانونو کې اللهﷻ نبي کریمﷺ ته کړي وي د معراج په شپه.
7. له نبي کریمﷺ د اللهﷻ مستقیمي خبري.

**۵۰) د دعوت مواد او اصول کوم دي؟**

**جواب:** د دعوت مواد او اصول په لاندې ډول دي.

۱: توحید ۲: د قیامت په ورځ ایمان ۳: د نفس تزکیه ۴: ټول کارونه اللهﷻ ته سپارل ۵: په نبي کریمﷺ باندې پوخ ایمان

**۵۱) د نبي کریمﷺ د نبوت مبارک ژوند په څو دورو ویشل شوي دي؟**

**جواب:** په دوه دورو اول مکي دور چې تقریبا ۱۳ و. دوهم مدني دور چې پوره لس کاله ده.

**۵۲) د نبي کریمﷺ د نبوت مکي دور په څو برخو ویشل شوی ده؟**

**جواب:** په دریو برخو ویشل شوي دي.

1. **د پټ دعوت دوره:** درې کاله یې دوام کړي.
2. **د مکي خلکو ته د بلني اعلان:** چې د بعثت له څلورم کال څخه پیل کیږي، او د بعثت د لسم کال تر وروستیو پوري دوام کوي.

ketabton.com - The Digital Library

3. **له مکي نه دباندې د دعوت مرحله:** چې د بعثت د لسم کال له وروستیو نه پیل کیږي، بیا مدني منورې ته د هجرت تر وخت دوام کوي.

**۵۳) د الله ﷻ غوره بنده ګان په اسلامي تاریخ په کوم نامه یاد شوي دي؟**

**جواب:** السابقون الاولون په نامه یاد شوي دي.

**۵۴) د ابوبکرصدیق رض د دعوت په پایله کې کوم کسان د اسلام په دین مشرف شول؟**

**جواب:** عثمان بن عفان، زبیر بن العوام، عبدالرحمن بن عوف، سعد بن ابی وقاص، طلحه بن عبیدالله، (رض الله عنهم اجمعین)

**۵۵) د اسلام په لومړیو کې څو رکعته لمونځ فرض و، او په کومو وختونو کې و؟**

**جواب:** مقاتل بن سلیمان وايي چې د اسلام په لومړیو کې دوه رکعته لمونځ سهار او دوه رکعته ماښام فرض و. الله ﷻ فرمايي (وسبح بحمد ربک بالعشي والا بکار) الغافر سورت ۵۵ ایت

**ژباړه:(** او تسبح ووایی سره له ثنا د رب خپل هم په اخر د ورځ کې او هم په اخر د ورځ کې...)

**۵۶) د ښکار دعوت لپاره د الله ﷻ کوم قول تر ټولو لومړي نازل شوي ده؟**

**جواب:** الله ﷻ پدې هکله فرمايي (وانذِر عشیرتک الا قربین) (سورة الشعرا۲۱۴)

**ژباړه:** او ووېره ته ( له عذابه ای محمده) هغه خپلوان د تا چې ډیر نږدې دي درته.

**۵۷) د حج په دوران کې به نبي کریم ﷺ په کومو ځایونو کې حاجیان د الله ﷻ لورې ته رابلل؟**

**جواب:** د حاجبانو په خپلو ځایونو کې لکه عکاظه، مجنه او ذي المجاز کې.

**۵۸) له اسلامي دعوت سره د مشرکینو د مقابلې شکلونه کوم وو؟**

**جواب:** په لاندې ډول دي.

1. تکذیب، ملنډې، استهزا او داسې نور
2. شکوک: د نبي کریم ﷺ د ذات، شخصیت، او هیدایاتو په اړه به یې بې اساسه شکونه رامنځته کول.
3. په پخوانیو کیسو سره به یې خلک له قرانکریم څخه لرې ساتل.

**۵۹) نبي کریم ﷺ له کومو ګاونډیانو څخه په عذاب وو؟**

**جواب:** ابن اسحاق وايي چې د نبي کریم ﷺ له ګاونډیانو څخه ابولهب، حکم بن ابي العاص، عقبه بن ابي معیط، عدي بن حمرا او ابن الاصدا دوي داسې شریر خلک وو، چې نبي کریم ﷺ په کور کې هم ترنه په کرار نه وو.

ketabton.com - The Digital Library

**۶۰) د اسلام د لومړي شهیدي نوم څه و، او د چا له خوا په شهادت ورسیده.**

**جواب:** سمیه چې د ابوجهل لعین له لوري په شهادت ورسیده.

**۶۱) په اسلامي تاریخ کې لومړنۍ پښه کومه وه. چې وینې پکې توې شوي؟**

**جواب:** د بعثت په څلورم کال په یو خوړ کې اصحاب کرام سره راټولیدل، او لمونځ به یې کاوه. یو ورځ مشرکینو ولیدل سعد بن ابي وقاص رض یو مشرک وواهه او وینې پرې راماتې کړي.

**۶۲) د نبي کریم ﷺ د چا کور د غونډو لپاره مناسب وګاڼه، او د نبوت پر پنځم کال د دعوت لپاره کوم ځای خپل مرکز وټاکه؟**

**جواب:** د ارقم بن ارقم المخزومي کور چې پر صفا غونډۍ و، د نبوت پر پنځم کال د خپل دعوت مرکز وټاکه.

**۶۳) په مسلمانانو باندې د مشرکینو ظلمونه د نبوت په څوم کال پیل شول؟**

**جواب:** د نبوت د څلورم کال په منځ یا وروستي برخه کې.

**۶۴) مسلمانانو لومړنۍ هجرت د نبوت په څوم کال او چیرته تر سره کړ؟**

**جواب:** مسلمانانو لومړنۍ هجرت د نبوت پر پنځم کال د رجب په میاشت کې چې ۱۲ تنه نارینه او څلور تنه ښځې وي، د حضرت عثمان بن عفان په مشري یې حبشې ته هجرت وکړ.

**۶۵) حبشې ته په دوهم هجرت کې څوتنه مسلمانانو ګډون درلوده؟**

**جواب:** په دغه هجرت کې۸۳ تنه سړي که عمار هم ورسره وشمیرل شي. ځکه په دې کې اختلاف ده چې عمار هم ورسره وو او کنه، او اتلس تنه یا هم نولس تنه ښځې وي. په دې اړه محمد سلیمان منصور په پوره ټنګار سره وایې، چې په دې هجرت کې د ښځو شمیر پوره اتلس تنه وو.

**۶۶) د مکې مشرکینو کوم دوه کسان حبشې ته لیږلي وو، تر څو هلته مهاجر مسلمانانو ته ستونزې جوړې کړي؟**

**جواب:** عمر بن العاص او عبدالله بن ابي ربیعه

**۶۷) مشرکینو ابوطالب ته د نبي کریم ﷺ په مقابل کې څوک وړاندې کړي و، تر څوهغه د زوي په رقم وروزي او نبي کریم ﷺ دوي ته تسلیم کړي.**

**جواب:** عماره بن ولید بن مغیره

**۶۸) حمزه رض د نبوت په کوم کال ایمان راوړي ده؟**

ketabton.com - The Digital Library

**جواب:** د نبوت د شپږم کال په وروستیو کې په غالب ګمان سره د ذي الحجې په میاشت کې.

**۶۹) عمر^رض^ د نبوت په کوم کال د اسلام په مبارک دین مشرف شو؟**

**جواب:** عمر^رض^ د نبوت په شپږم کال له حضرت حمزه^رض^ څخه درې ورځې وروسته ایمان راوړی ده.

**۷۰) مشرکینو د محصب په وادي کې دبني هاشم او بني المطلب په خلاف کوم تړون وکړ، او د دې تړون خط چا لیکلی وو؟**

**جواب:** مشرکینو د بني هاشم او بني المطلب کورنیو په خلاف چې نور به له دې دواړو کورنیو سره هیڅ ډول اړیکه لکه (دوستي، خپلوي، اخیستل او خرڅول، ناسته ولاړه او حتی تر دې پوري چې له دې دواړو کورنیو سره به خبري هم نه کوي) تر هغه به دا تړون دوام لري چې تر څو یې نبي کریمﷺ مشرکینو ته نه یې سپارلي، او د دې تړون مواد د صحح روایت له مخې بغیض بن عامر بن هاشم لخوا لیکل شوي وو.

**۷۱) د مشرکینو درې کلن ظالمانه تړون په کوم کال او ولې مات شو؟**

**جواب:** دغه تړون د بعثت په لسم کال د محرم په میاشت کې له منځه لاړ، او د ماتیدو علت یې دا وو، چې ځني قریش په پیل څخه په دې تړون راضي نه وو. نو همدا ناخوښي د دې لامل شوه چې یاد تړون له منځه یوسي، چې اصلي محرک یې هم دعامر بن لوي کورنۍ غړی هشام بن عمرو وو.

**۷۲) ابوطالب د بعثت په کوم کال کې وفات شو؟**

**جواب:** د بعثت په لسم کال

**۷۳) حضرت خدیجه (رضی الله عنها) د بعثت په کوم کال وفات شوه؟**

**جواب:** د بعثت په لسم کال په رمضان میاشت کې د ۶۵ کلنو په عمر له دې دونیا سترګې پټې کړي.

**۷۴) نبي کریمﷺ کوم کال د عام الحزن( دغم کال) په نامه نومولي او ولې؟**

**جواب:** د بعثت لسم کال ځکه چې په دې کال کې د نبي کریمﷺ تره او ام المومنین خدیجة الکبرا وفات شول.

**۷۵) د خدیجي بي بي له وفات وروسته نبي کریمﷺ له کومي بي بي سره نکاح وکړه؟**

**جواب:** د خدیجي بي بي له وفات وروسته چې نبي کریمﷺ تر ټولو لومړي له حضرت سوده رضی الله عنها سره نکاح کړي.

ketabton.com - The Digital Library

**۷۶) د مسلمانانو د صبر او ثبات عوامل کوم وو؟**

**جواب:** د مشرکینو د ظلم او جبر پرمهال د مسلمانانو د صبر عوامل په لاندې ډول دي.

1. په اللهﷻ باندې ټینګ ایمان او د اللهﷻ په حقیقي ډول پیژندنه.
2. داسې قیادت او رهبري چې په زړونو باندې حکومت کوي.
3. د مسولیت احساس د بشریت په هکله.
4. په اخیرت باندې ایمان درلوده.
5. قرانکریم.
6. د برې زیرې.

**۷۷) نبي کریمﷺ څخه وخت د طایف په لوري روان شو؟**

**جواب:** د نبوت په لسم کال د شوال په میاشت کې چې ۶۱۹ م کال دمې د میاشتې له وروستیو او د جون له لومړیو سره سمون خوري.

**۷۸) طایف له مکی نه څومره لرې دی، او په دغه سفر کې له نبي کریمﷺ سره څوک وو؟**

**جواب:** طایف له مکې څخه ۶۰ میله لرې موقعت لري، په دغه سفرکې زید بن حارث د نبي کریمﷺ ملګرتیا کوله.

**۷۹) نبي کریمﷺ په طایف کې څومره اقامت وکړ، او هلته یې له کوم دریو ورونو سره ولیدل؟**

**جواب:** نبي کریمﷺ په طایف کې لس ورځې پاتې شو، هلته یې له عبدبالیل، مسعود او حبیب په نومونو له دریو ورونو سره ولیدل، چې دریو واړو د نبي پاکﷺ دعوت ونه مانه.

**۸۰) کله چې نبي کریمﷺ له طایف نه روان و، د طایف د جاهیلو خلکو له اذیت څخه یې چیرته پنا واخیسته او کومه دوعایې وکړه؟**

**جواب:** د طایف جاهیلو خلکو هغه په ډبرو ویشته تردې چې د مبارک له پښو څخه وینې رواني شوې. په همدې حالت کې له طایف څخه درې میله لرې د ربیعه د زامنو چې عتبه او شیبه نومیدل په باغ کې پنا واخیسته او کومه دوعا یې چې وکړه د مستضعیفنو د دوعا په نامه مشهوره ده.

**۸۱) نبي کریمﷺ کومو قبلو ته تشریف وروړی و، او هغه یې اسلام ته دعوت کړي وي؟**

**جواب:** امام زهره رحمة الله لاندې قبلې ښودلې دي چې د هغو له جملې څخه ځینی مونږ په لاندې ډول درته وړاندې کوو.

ketabton.com - The Digital Library

۱ بنو عامر بن صعصعه ۲ محارب بن خصفه ۳ فزاره ۴ غسان ۵ مره ۶حنیفه ۷ سلیم او داسي نوری قبلي هم وې چې د دغو له جملو څخه یوه هم د اسلام په دین نه دې مشرف شوي.

**۸۲) نبي کریمﷺ څه وخت له حضرت عایشي رضي الله عنها سره نکاح او واده وکړ؟**

جواب: د نبوت په یولسم کال د شوال میاشت کې چې هغه وخت دعایشي بي بي عمر شپږ کاله و، نبي کریمﷺ ورسره نکاح وکړه، خو واده یې بیا په مدینه کې د هجرت په لومړي کال د شوال په میاشت کې ترسره کړ چې هغه وخت د عایشي بي بي عمر نهه کاله و.

**۸۳) د معراج د پیښې په اړه د تاریخ پوهانو نظرونه کوم ډول دي؟**

**جواب:** نظریات په لاندې ډول دي.

1. طبري رحمة الله وایي کوم وخت چې نبي کریمﷺ په نبوت مشرف شو په هماغه کال د معراج پیښه رامنځته شوي ده.
2. امام نوی او امام قرطبي رحمة الله وایي چې دا پیښه له بعثت نه پنځه کاله وروسته رامنځته شوي ده.
3. علامه منصوري پوري وایې چې د نبوت په لسم کال د رجب دمیاشتې ۲۷ نېټه دا پیښه شوي ده.
4. ویل شوي چې دا پیښه د بعثت په دولسم د رمضان په میاشت کې شوي ده.
5. د نبوت په دریارلسم کال د محرم په میاشت کې شوي ده.
6. د نبوت په دریارلسم کال د ربیع الاول په میاشت کې شوي ده.

**۸۴) د معراج په شپه نبي کریمﷺ به اسمانونو کې له کومو پیغمبرانوؑ سره ولیدل؟**

**جواب:** په اول اسمان کې آدمؑ په دوهم کې یحیي بن زکریاؑ او عیسي بن مریمؑ په دریم کې

یوسفؑ په څلورم کې ادریسؑ په پنځم کې هارونؑ په شپږم کې موسيؑ او په اووم اسمان کې یې له ابراهیمؑ سره ملاقات شوي ده.

**۸۵) دعقبه د لومړنۍ بیعت په خپل معلومات ولیکۍ؟**

**جواب:** کله چې د نبوت په یولسم کال د حج په موسم کې د یثرب له خلکو څخه شپږ تنه په اسلام مشرف شول او له نبي کریمﷺ سره یې تړون وکړ چې دا دعوت به خپل قوم ته رسوي. هماغه وو چې د نبوت په دولسم کال د حج به موسم کې دولس کسان د نبي کریمﷺ حضور ته حاضر شول. پنځه تنه یې پخواني او اوو تنه یې نوي ورسره راوستي و، کله چې له نبي کریمﷺ سره بیعت وکړ نو دیته د عقبه لومړني بیعت ویل کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

**۸۶) نبي کریمﷺ کوم لومړنی سفیر مدیني منوري ته واستاوه او هلته يې د چا په کور کې واړول.**

**جواب:** مصعب بن عمیرؓ د اسعد بن زراره په کور کې واړول.

**۸۷) د عقبی د دوهم بیعت په اړه خپل معلومات ولیکئ؟**

جواب: نبوت په ۱۳ کال د مدیني منوري څخه ۷۳ تنه نارینه او۲ تنه ښځینه مسلمانان د حج لپاره مکي ته لاړل کله چې مکي ته ورسیدل په پټه يې له نبي کریمﷺ سره په تماس کې شوچې د ذی الحجي په ۱۲ سمه شپه به په منی او جمره عقبی په خواکې سره غونډیږو په دغه ځاي چې کوم بیعت ترسره شوي ده، دغه بیعت ته د عقبی دوهم  بیعت وایي.

**۸۸) د عقبی دوهم بیعت په کومو شرطونو ترسره شوي ده؟**

**جواب:** شرطونه يې په لاندې ډول دي.

1. په هر حالت کې به زما خبري اوري مني او اطاعت به کوي.
2. په فقر او شتمني په داړو کې به مال خرڅوي او مصرفوي.
3. په نیکي به امر کوي او له بدي به نهي کوي.
4. د خدایﷻ د دین په خاطر راپورته شي، او په دې لاره کې د هیچا پروا مه کوي.
5. کله چې درغلم ملاتړ به مې کوي، لکه څنګه چې د خپلو کورنیو کوي.

**۹۰) د قریشو د پارلمان یا دارالندوه خطرناکه غونډه څه وخت رامنځته شوه. او څه پریکړه يې وکړه؟**

**جواب:** د عقبی د دوهم بیعت څخه دونیمي میاشتي وروسته د پنج شنبي په سهار د نبوت په څورلسم کال د صفري د میاشتي په ۲۶ نېټه چې له ۶۲۲م کال دسپتمبر له۱۲ سره سمون خوري دغه غونډه رامنځته شوه، او دا پریکړه يې چې نبي کریمﷺ به وژني.

**۹۱) د دارالندوه په غونډه کې د قریشو کومو استازو ګډون کړي وو؟**

**جواب:** ابوجهل، جبیر بن معطم، طعیمه بن عدي، حارث بن عامر، شیبه، عتبه، ابوسفیان او داسي نورو مشرانو.

**۹۲) نبی کریمﷺ څه وخت د هجرت په نیت له کور څخه بهر شو؟**

ketabton.com - The Digital Library

**جواب:** د نبوت په څورلسم کال د صفری د میاشتي په ۲۷ چې له ۶۲۲م کال د سپتمبر له ۱۲یا۱۳ سرسمون خوري له خپل کور څخه د هجرت په نیت ووت.

**۹۳) نبي کریمﷺ له ابوبکرصدیق سره څومره وخت په غار ثور کې وو؟**

**جواب:** درشپي (جمعه، هفته، یک شنبه)

**۹۴ نبي کریمﷺ څه وخت قبا ته ورسیده، او هلته یې د چا په کور کې پاتي شو، او څومره وخت یې هلته تیر کړ؟**

**جواب:** د دوشنبي ورځ د نبوت په څورلسم کال اود هجرت په لومړي کال د ربیع الاول په اتمه چې ۶۲۲م کال سره سمون خوري قبا ته ورسیده، هلته یې د کلثوم بن هدم په کور کې څلور ورځي پاتي شو، چې دلته یې له نبوت وروسته د لومړني مسجد تهداب کیښود.

**۹۴) د مدیني دور په څو برخو ویشل شوي ده؟**

**جواب:** په دریو برخو چې په لاندې ډول دي.

1. لومړنۍ مرحله چې د ګڼو مشکلاتو، فتنو او کورنیو خنډونو شاهده وه. چې دا مرحله د حدیبیي په سولي یعني د هجرت په شپږم کال د ذالقعدي په میاشت کې پای ته ورسیده.
2. له شرک او بت پرستانو سره اوربند او پاچاهان اسلام ته رابلل، چې دا مرحله دمکي په فتحه یعني په اتم هجري کال د رمضان په میاشت کې پای ته رسیدلي ده.
3. د اللهﷻ په دین کې د ډلو ډلو کسانو داخلیدل، چې دا مرحله د مبارک د ژوند تر پای پوري یعني د هجرت تر یوولسم کال پوره دوام کړي ده.

**۹۵) نبي کریمﷺ په مدینه کې له کومو قومونو سره مخ وو؟**

**جواب:** نبي کریمﷺ په مدینه کې له دری داسي قومونو سره مخ چې په هر څه کې یو له بل سره توپیر درلوده، هغه قومونه په لاندې ډول دي.

1. اصحاب کرام
2. د مدیني اصلي اوسیدونکي چې تر اوسه پوري شرک څخه نه وو خلاص شوي.
3. یهود

**۹۶) په مدینه کې د یهودو کومي مشهوري قبلي اوسیدلي؟**

ketabton.com - The Digital Library

1. بنو قينقاع چې له خزرج قبلې سره یې تړون درلوده.
2. بنو نظر
3. بنو قریظه او بنو نظر دواړو له اوس قبلې سره تړون درلوده.

**۹۷) د نبوي مسجد د جوړښت په اړه خپل معلومات ولیکئ؟**

**جواب:** د دروازي دواړه پایې یې له تیږو څخه جوړي شوي دي، دیوالونه یې د خښتو او ختودي چت یې د خرماوو په تنو او پاڼو پټ کړي. ټول جومات درې دروازي درلودې د قبلې دیوال او هغه ته مخامخ دیوال یې ۱۰۰ ګزه وخ، او د څنګ دیوالونه یې هم همدومره وو.

**۹۸) د غزوه او سریه ترمنځ توپیر څه ده؟**

**جواب:** غزا هغه ته وویل کیږي چې په هغه کې نبي کرمﷺ خپله ګډون کړي وي. او سریه بیا هغه ته ویل کیږي چې په هغه کې یې خپله ګډون نه وې کړي.

**۹۹) د سیف البحر سریه په کوم کال او چیرته رامنځته شوه؟**

**جواب:** د هجرت په لومړي کال د رمضان په میاشت کې چې له ۶۲۳ کال سره سمون خوري د سیف البحر په سیمه کې رامنخته شوه چې مشري د حمزهرض په غاړه وه.

**۱۰۰) د رابغ سریه په کوم کال رامنخته شوه؟**

**جواب:** د هجرت په لومړي کال د شوال میاشت کې چې له ۶۲۳م کال سره سمون خوري د رابغ په سیمه کې رامنځته شوه چې مشري د عبیده بن الحارث به غاړه وه.

**۱۰۱) د خرار سریه په کوم کال کې رامنخته شوه؟**

**جواب:** د هجرت په لومړي کال د ذی القعدي په میاشت کې چې له ۶۲۳ م کال سره سمون خوري، د خرار په سیمه کې رامنځته شوه چې مشري یې سعد بن ابی وقاص په لاس کې وه.

**۱۰۲) د نبي کریمﷺ لومړنې غزا په څه نامه یادیږي، او په کوم کال کې رامنځته شوه؟**

**جواب:** د ابواء یا ودان په نامه چې د هجرت په دوهم کال د صفری په میاشت کې چې له ۶۲۳ م کال سره سمون خوري رامنځته شوه.

**۱۰۳) د بدر له غزا نه مخکې چې کوم غزاوات رامنځته شوي په لنډ ډول یې تاریخ ولیکئ؟**

**جواب: لاندې غزاوات دي.**

ketabton.com - The Digital Library

1. د بواط غزا چې په دوهم هجري کال په صفرپ میاشت کې چې ۶۲۳ م کال سره سمون خوري.
2. د سفوان غزا چې په دوهم هجري کال د ربیع الاول په میاشت کې...
3. د ذی العشرة غزا چې په دریم هجري کال جمادي الاول او جمادی الا اخر په میاشت کې

**۱۰۴) له کومې سریه وروسته په مسلمانانو باندې جنګ او قتال فرض شو؟**

**جواب:** د نخله له سریه وروسته په کومه کې چې عبدالله بن جیحش یو مشرک مړ او دوه تنه نور اسیران کړل.

**۱۰۵) څه وخت الله ﷻ د بیت المقدس په پر ځاي کعبه د مسلمانانو قبله اعلان کړه؟**

**جواب:** په دوهم هجري کال د شعبان په میاشت کې چې له ۶۲۴ م کال سره سمون خوري.

**۱۰۶) د بدر د ستري غزا په اړه خپل معلومات ولیکئ؟**

**جواب:** د بدر غزا په دوهم هجري کال کې رامنځته شوي ده چې پکې د اسلامي لښکر شمیر مختلیف ښودل شوي ده. ۳۱۳، ۳۱۴ او ۳۱۷ هم ښودل شوي ده چې د دوي له جملې څخه ۸۶ تنه مهاجرین ۶۱ تنه د اوس د قبلي او ۱۷۰ تنه د خزرج د قبلي مجاهیدین وو. د مشرکینو شمیر بیا تر ۱۳۰۰ تنه پوري رسیده چې ۱۰۰ اسونه ۶۰۰ زغري او يې شمیره اوښان ورسره وو کله چې جګړه پای ته ورسیده ۱۴ کسه مسلمانان چې اته کسه انصار او ۶ کسه مهاجرین وو په شهادت رسیدلي و. له مشرکینو څخه ۷۰ تنه مړه او ۷۰ تنه يې نور ژوندي نیول شوي و.

**۱۰۷) د عکاشه بن محصن السدي توره په څه نامه وه، او دغه توره چا ورکړي وه؟**

**جواب:** د عکاشه توره د العون په نامه مشهوره وه چې د بدر په جګړه کې نبي کریم ﷺ عکاشه ته یو لرګي ورکړ چې وروسته په تور بدل شو، او تر هغه دغه توره ورسره ترڅو د ردت په جګړه کې په داسی حال کې شهید شو چې همدا توره يې په لاس کې وه.

**۱۰۸) د بني سلیم غزا څه وخت او چیرته رامنځته شوه؟**

**جواب:** دغه غزا د بدر له غزا څخه ۷ ورځې وروسته یعني په دوهم هجري کال د شوال په میاشت کې د کدر په سیمه کې د بني سلیم خلک وتښتیدل او ۵۰۰ اوښان ځای پر ځای پریښودل چې په دې غزا کې د مسلمانانو شمیر۲۰۰ تنه ښودل شوي ده.

**۱۰۹) د احد د ستري غزا پهاړه په خپل معلومات ولیکئ؟**

ketabton.com - The Digital Library

**جواب:** دغه ستره غزا په دریم هجري کال د شوال په اوومه د هفتي په ورځ رامنځته شوي ده. چې پکې د مسلمانانوشمیر ۷۰۰ تنه وو مخکې له جګړې څخه یې شمیر ۱۰۰۰ تنه و، خو د منافق عبدالله بن ابی له بغاوت وروسته ۷۰۰ تنه پاتې شو چې ۱۰۰ زغرې او ۵۰ اسونه یې درلودل. د مدینې لښکر په دریو برخو ویشل شوي وو. اول دمهاجرینو ټولې چې بیرغ وړونکې یې مصعب بن عمیر وو. دوهم د اوس قبلې ټولې چې بیرغ وړنکې یې اسید بن حضیر وو. دریم د خزرج د قبلې ټولې چې بیرغ وړونکې یې حباب بن المنذر وو.

د جګړې پرمهال د مدینې د لښکر د میمنې قومنده د منذر بن عمر په لاس کې وه. همداسې د میسرې قومنده د زبیر بن عوام په لاس کې وه، او د ټول لښکر قومنده بیا د نبی کریمﷺ په لاس کې وه. له جګړې وروسته د مسلمانانو د شهیدانو شمیر۶۹ تنه ښودل شوي چې ۴۱ تنه د خزرج د قبلې ۲۴ تنه د اوس د قبلې او ۴ تنه مهاجرین به شهادت رسیدلې وه او یو تن یهودي هم مړ شوي وه.

په دغه غزا کې د مشرکینو د لښکرشمیر۳۰۰۰ تنه وه چې ۳۰۰۰ اوښان ۲۰۰ چنګې اسونه او ۷۰۰ زغرې یې لرلې د ټول لښکر مشري یې د ابوسفیان او سپرو قومنده یې له خالد بن ولیده سره وه. له جګړ وروسته یې د مړو شمیر ۲۲ او په بعضې روایاتو کې ۳۷ ښودل شوی ده.

**۱۱۰) احد په غزا کې کومې ګټې او حکمتونه وه؟**

**جواب:** ابن حجر وایي چې علما د احد په غزا کې لاندې حکمتونو ته اشاره کړې ده.

1. مسلمانانو د نافرمانې جزا او نتیجه ښودل
2. مسلمانان د منهیاتو د ارتکاب په ضرر پوهول
3. رسولان داسی وې چې وخت ناوخت د اللهﷻ له لورې له داسې ازمایښتونو سره مخ کیږي.

**۱۱۱) صلوات خوف یا د ویرې لمونځ نبي کریمﷺ څه وخت کړې او څه وخت روا شو؟**

**جواب:** نبي کریمﷺ د ویرې لمونځ د لومړې ځل لپاره د ذات الرقاع په غزا کړې. چې بیا د عسفان د غزا په وخت کې روا شو.

**۱۱۲) د بدر د دوهمې غزا په اړه خپل معلومات ولیکئ؟**

**جواب:** د بدر دوهمه غزا د هجرت په څلورم کال د شعبان په میاشت کې چې له ۶۲۶ م کال سره سمون خوري نبي کریمﷺ له ۱۵۰۰ کسانو سره چې لس اسونه هم ورسره وه، د بدر د میدان په لور د جنګ لپاره روان شو او هلته یې د دوښمن د راتلو انتظار کاوه تر څو ابوسفیان له ۲۰۰۰ کسانو سره له مکې نه حرکت وکړ او رومة الظهران کې واړول خو د مسلمانانو ویره

ketabton.com - The Digital Library

دومره پرې غالبه شوه، چې بېرته په شا شول. دا هغه غزا وه کومه چې د احد په میدان کې نبی کریمﷺ له مشرکینو سره وعده کړې وه دغه غزا په بېلا بېلو نومونو سره یاد شوي ده. لکه بدر موعد، دوهم بدر، بدرالخرا او بدرالصغرا

**۱۱۳) د خندق د غزا په اړه خپل معلومات ولیکئ؟**

**جواب:** د خندق غزا په صحح روایت سره د هجرت په پنځ کال د شوال په میاشت کې چې مشرکینو تقریبا ۳۰ ورځې مسلمانان محاصره کړي وه. چې دا محاصره د شوال په میاشت کې پیل او د ذي القعدي میاشت کې پای ته ورسیده. ابن سعد وایي چې نبي کریمﷺ په داسي وخت کې مدینه ته لاړه چې د چهارشنبي ورځ او د ذي القعدي د میاشتي یوازي ۷ ورځي پاتی وي.

**۱۱۴) د بني قریظه د غزا په اړه خپل معلومات ولیکئ؟**

**جواب:** دغه غزا د هجرت په پنځم کال د ذي القعدی په میاشت کې پېښه شوي ده. د مسلمانانو له لوري د بني قریظه یهود ۲۵ ورځي تر محاصري لاندې وه. چې په پای کې د بني قریظه یهود تسلیم او د سعد بن معاذرض د پریکړي په اساس ټول له تیغ تیر شو.

**۱۱۵) نبي کریمﷺ څه وخت مکي ته د عمري د آدا کولو لپاره حرکت وکړ؟**

**جواب:** د هجرت په شپږم کال د ذي القعدي په لومړي نېټه د د وشنبي په ورځ یې له مدیني څخه حرکت وکړ. ام سلیمه رضی الله عنها هم ورسره وه د لښکر شمیر ۱۴۰۰ او په بل روایت کې ۱۵۰۰ کسان وه په دغه سفر کې له نبي کریمﷺ او ملګرو سره یې له توري پرته نور هیڅ ډول وسله نه وه.

**۱۱۶) د حدیبي صلحه په کومو شرطونو سره ترسره شوه؟**

**جواب:** شرطونه یې په لاندې ډول دي.

1. نبي کریمﷺ به سږ کال مکي ته نه داخلیږي. په راتلونکي کال کې به مسلمانان راځي، دري ورځي به په مکه کې تیروي له دوي سره به له توري پرته بل ډول وسله نه وې.
2. د داړو لوریو ترمنځ لس کال اوربند وي. یو پربل به تعرض نه کوي.
3. هر څو کولای شي په خپله خوښه له نبي کریمﷺ یا قریشو سره د دوستي تړون وکړي.
4. که څوک د خپل ولی له اجازي پرته راوتښتیدل او نبي کریمﷺ ته راغلل، نو بیرته به یې قریشو ته سپاري، او که څوک له نبي کریمﷺ  نه قریشو ته لاړل نو قریش به یې بیرته نه سپاري.

**۱۱۷) عمرو بن العاص، خالد بن ولید او عثمان بن طلحه څه وخت د اسلام په دین مشرف شول؟**

ketabton.com - The Digital Library

**جواب:** په اووم هجري کال کې

**۱۱۸) د خیبر ښارله مدیني منوري څخه څومري لري موقعت لري؟**

**جواب:** د مدیني شمال لوري ته د ۶۰ یا ۸۰ میله په واټن کې موقعت لري.

**۱۱۹) خیبر په څو برخو ویشل شوي ده؟**

**جواب:** خیبر په دوه برخو ویشل شوي چې لومړۍ برخه یې د نطاء او شق نومې سیمو باندې مشتمله ده، چې په دې دواړو سیمو کې بیا بیل بیل برجونه شتون لري. په نطاء سیمه کې دری برجونه (ناعم برج، صعب بن معاذ برج او د د قلعه زبیر برج) او په شق نومې سیمه کې بیا دوه برجونه چې د (ابی برج او د نزار برج) په نامه دي شتون لري. د خیبر دوهمه برخه د کتیبه په نامه سره مشهوره ده. چې په دغه برخه کې بیا دری برجونه (قموص برج، وطیح برج او د سلالم برج) به نامه دې شتون لري.

**۱۲۰) د ذات الرقاع غزا څه وخت پیښه شوي ده، او د چا په وړاندې وه؟**

**جواب:** د دې غزا د نېټي په اړه اختلاف شتون لري خو صحح راویت دادي چې د هجرت په ۷ کال د ربیع الاول په میاشت کې شوي ده. دغه غزا د اعرابو یا کوچیانو په وړاندې وه.

**۱۲۱) د موته جګړي په اړه خپل معلومات ولیکئ؟**

**جواب:** دا جګړه د هجرت په ۸ کال د جمادی الاول په میاشت کې چې له ۶۲۹ م کال له سپتمبر یا اګیسټ سره سمون خوري پیښه شوي ده. موته د شام په لاندنې برخه بلقاء کې یو سیمه ده، چې له بیت المقدس سره دوه منزله مسافه لري.

**۱۲۲) د مکي د فتحي په اړه لنډ معلومات ولیکئ؟**

**جواب:** په ۸ هجري کال د رمضان د میاشتي په لسمه نېټه نبي کریمﷺ د ۱۰۰۰۰ اصحابانو په ګډون د مکی په نیت مدینه پریښوده. په مدینه کې ابو رهم غفاري خلیفه وټاکه د دې فتحي او غزا سبب د قریشو متحدې قبیلي بنوبکر غدر او خیانت وه چې له بنوخزاعه قبیلی سره یې کړي وه.

**۱۲۳) د مکي د فتحي په ورځ نبي کریمﷺ په څومجرمینو باندې د قتل امر صادره کړ، او نومونه یې څه وه؟**

**جواب:** په نهه مجرمینو باندې چې نومونه یې په لاندې ډول ذکر کوه.

عکرمه بن ابی جهل، عبدالعزي بن نفیل، عبدالله بن ابی سرح، حارث بن نفیبل، مقیس بن صبابه، هبار بن اسود، د بن خطل دوه ډماني او ساره چې د بني مطلب خادمه وه.

**۱۲۴) حجة الوداع یا هم نبی کریمﷺ خپل ورستنی حج څه وخت ترسره کړ؟**

ketabton.com - The Digital Library

**جواب:** د حجة والوداع لپاره نبي کریمﷺ د هجرت په لسم کال چې د ذی القعدی لا هم څلور ورځې پاتې وې د سفري تیاری پیل کړي. د قرباني څاروي ته یې په غاړه کې قلاده واچوله او له ماسپښین وروسته یې حرکت وکړ، کله چې مکې ته داخل شو دا وخت د هجرت لسم کال د ذی الحجې څلورمه نېټه وه. یعني اته ورځې په لاره تیرې شوې.

**۱۲۵) نبي کریمﷺ په خپل ورستي حج کې څومره اوښان حلال کړل؟**

**جواب:** نبي کریمﷺ ۶۳ دانې په خپل مبارک لاس سره حلال کړل، پاتې یې حضرت علیرض ته وسپارل تر څو د نبي کریمﷺ په نمایندګۍ سره یې حلال کړي، چې په دې سره۳۷ دانې هغه حلال کړل چې ټول ۱۰۰ اوښان کیږي.

**۱۲۶) د نبي کریمﷺ د ناروغۍ د پیل په اړه خپل معلومات ولیکئ؟**

**جواب:** د هجرت په یولسم کال د صفری د میاشتې په ۲۹ مه نېټه یې په بقیع کې په یو جنازه کې شتون درلوده. کله چې بیرته د کور په لور روان وه په لار کې په سر درد شو سختې تبې ونیوه چې دا یې د ناروغۍ پیل وه.

**۱۲۷) نبي کریمﷺ د ناروغتیا پر مهال حضرت ابوبکر د څو لمونځونو امامت وکړ؟**

**جواب:** نبي کریمﷺ د ناروغۍ پرمهال د ۱۱ ورځې د خلکو د لمونځونو امامت کړي، چې له هغه وروسته حضرت ابوبکر ته وسپارل شو. په دې سره حضرت ابوبکر د نبي کریمﷺ د ناروغۍ پرمهال د ۱۷ لمونځونو امامت وکړ.

**۱۲۸) د نبي کریمﷺ د رحلت نېټه څرګنده کړي؟**

**جواب:** د هجرت یولسم کال د ربیع الاول دولسمه د دوشنبې ورځ غرمه مهال یې له دې نړۍ څخه د ۶۳ کلو په عمر سترګې پټې کړې.

**۱۲۹) نبي کریمﷺ ته چا غسل ورکړ؟**

**جواب:** حضرت عباسرض، حضرت علیرض او د حضرت عباسرض زامنو فضل او قثم او ځینې نور کسان هم ورسره وه.

**۱۳۰) د نبي کریمﷺ د بیبیانو نومونه ولیکئ؟**

**جواب:** خدیجه بی بی، سوده بی بی، عائشه بی بی، حفصه بی بی، زینب بنت خزیمه، ام سلمه هند بنت ابی امیه، زینب بنت جحش، جویریه بنت حارث، ام حبیبه رمله بنت ابی سفیان، صفیه بنت حیی بن اخطب، میمونه بنت حارث (رضی الله عنهن اجمعین).

**۱۳۱) نبي کریمﷺ له څو وینځو سره یوځای شوي وه په اړه یې معلومات ولیکئ؟**

ketabton.com - The Digital Library

**جواب:** له دوه وينځو سره يو ځای شوي وه چې د يوي نوم ماريه قبطی وه، چې د مصر مقوقس ورکړي وه له هغې نه يې يو زوي درلوده چې نوم يې ابراهيم وه په لسم هجري کال د شوال په ۲۸ يا ۲۹ وفات شوي ده. بله وينځه ريحانه بنت زيد نضری وه چې د بني قريظه په غزا کې په اسارت نيول شوي وه.

پای

من الله توفيق

خوست۷/۵/۱۴۰۳

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*